مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپیڅلی

۲۰۲۶/۱۰/۰۳

# د مځکې اسونه

په سوریالیستک سبک لیکل شوي دا کیسه د انسان د ذهن هغه نړۍ انځوروي چې پکې طبیعت، وېره، غرور او ژغورنه د خیال په ژبه د روح د پټو جګړو تمثیل کېږي.

-----------------------------------

سپین ږیري سپلاب زاړه کالي اغوستي او پر مخ یې د اوږده مزل ګردونه پراته دي.

بنی لاس یې پر تندي سترګو ته سایوان کړی دی، په بل لاس کې یې د سکروټو خنجر لیونی کړیږي وهي، دا کړیږي کاڼه لا هم اوري.

سپلاب زموږ کلي ته په خورا غضب راروان دی، د کلي په منځ کې ولاړ غر وارخطاء دی ټول اندامونه یې رېږدي،خو بیا یې هم لمن له اورونو ډکه کړې ده او د خونړي سپلاب جګړې ته زړه نا زړه چمتوالی نیسي.

لمر له اسمانه دا ناري پر وهي: "پام کوه پام کوه"!!

غر حیران دی او د لمر ناري نه اوري.

د مځکې اسونه یوې او بلې خواته ځغلي، د ونو په ښاخونو کې زمریان د ښکار کړو لړمانو زړې غوښې خوري

د زمریانو داړې د فیلانو تر شونډکانو اوږدې دي

بریتونه نه لري، خو وزرونه یې د لکیو خواته ځړېږي

په کلي کې وېره خپره ده

قهرجن سپلاب کلي ته رانژدې سوی دی، خو غر لا هغسې رېږدي.

زه د دېوانو پاچا یم او له سکرو ښخه پر جوړ کړي تخت ناست یم، مګرد حکم پر ځای ژاړم، زما تر سترګو وینې بهیږي. دا وینې د دوو ویالو په څېر د خونړي سپلاب پر وړاندي د زغرو جامې اغوستي او توري په لاس زړور برید پیلوي.

زما د اوښکو زریني توري او د اور زغري لویې بخري پاشي دا بخري د راغلي سپلاب سترګي ړندوي او سپین ږیری سپلاب تښتي.

زه ځان ته ګورم عادی انسان یم، د دېوانو پاچا نه یم.

۱۸ ، اګست ، ۲۰۲٦ سه شنبه
الفتیر ویترشلیک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ